مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

د. صلاح الدين سعيدي ۲۰۱۹/۰۵/۱۵

# لر او بر یو افغان

دا د دين طالب زمونږ سکنی ورو دی
چې پنجاب سره ولاړ دی قصد يې نور دی

ښه يې پيژنو هر څه مونږ ته معلوم دي
چې تاجر د دين، وطن او د خپل کور دی

مونږ هيڅ کله غلامي نه ده منلې
په دې ځينو خو صفا د پنجاب تور دی

شي تباه به هم د خلکو خندني بيا
چې وران کړی يې وطن د بل په زور دی

لېرې نه ده د حساب ورځ به يې راشي
دا پردو جيره خوارانو ته پيغور دی

شرمېدلي دي د قام چې سپکه غواړي
هر زمان په هر حالت کې يې مخ تور دی

راځئ ورنو چې يو موټی يو قوت شو
د وطن عزت زمونږ د هر يو پور دی

د آمو نه تر بولانه يو افغان دی
لر او بر د هر افغان تاريخي کور دی

---------------------------------
د. صلاح الدين سعيدي
می۲۰۱۹


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولـئ